# <u>مطبوعاتي اعلاميه</u>

## د نېک او غښتلي دعوتګر عبدالرحيم جوبار شهادت




**﴿مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا﴾**
[ الاحزاب: ۲۳]

*ژباړه: له مومنانو څخه ځينې داسې شخصيتونه شته، چې له الله سره يې کړې ژمنه رښتيا کړې ده، له هغو څخه ځا خپل نذر پوره کړ او څوک د وخت راتلو ته انتظار کوي. هغوی په خپله کړنلاره کې هيڅ بدلون نه راووست.*

د شام پاڅون يو په بل پسې قربانيو ته دوام ورکړی، لا تر اوسه يې بچيان بې ساري هڅه کوي، چې د الله سبحانه و تعالی کړې ژمنه؛ يو پرتمين برې يا داسې جنت تر لاسه کړي، چې پراخوالی يې د ځمکې او اسمانونو په اندازه دی او دا جنت د رېښتينو کسانو لپاره تيار شوی دی.

د سې شنبې ورځ د ۱۴۳۹ هـق کال د ربيع الاخر پر اتمه، چې د ۲۰۱۷ م د ډېسمبر له ۲۶ مې سره سمون لري، شام له خپل يوه بااحساسه بچي مجاهد اعبدالرحيم جوبار سره مخه ښه وکړه؛ چې ۳۳ کلن، د څلورو ماشومانو پلار او دمشق ته څېرمه په جوبار نومې سيمه کې اوسېده. دغه مجاهد د اسد ظالم رژيم له لوري د يو توغول شوي توغندي پر مټ لومړی ټپي او وروسته يې له دې فاني نړۍ څخه سترګې پټې کړې.

د جوبار اوسېدونکي له عبدالرحيم سره پوره اشنا وو. دی له هغو لوموړنيو ځوانانو څخه و، چې د اسد رژيم پر وړاندې يې په دې موخه پاڅون وکړ، چې د هغه رژيم را وپرځوي. دی د پاڅون له پيله کابو دوه کاله، دوه ځلې بندي شوی، له خوشې کېدو وروسته يې هم همت له لاسه ور نه کړ او مبارزې ته يې په مېړانه دوام ورکړ. له حزب التحرير سره يې د رسول الله (صلی عليه و سلم) پر طريقه کار کاوه، ترڅو د اسد رژيم وپرځوي او د نبوت پر منهج خلافت تاسيس کړي.

مورږ د ولایه سوریې مطبوعاتي دفتر استازي، د عبدالرحیم جوبار د شهادت له کبله ټول امت سره خوا خوږي شریکوو او په ډاډ سره وایو: چې د ده او د ده د ملګرو وینه به په شام کې بې ځایه نه شي او هغه کسانو چې د جینوا، ریاض، استانه، سوچي او نورو له شرم او غلامۍ ډکو کانفرانسونو کې ګډون وکړ او د خپلو مسلمانو شهیدانو وینه یې په ارزانه بیه وپلورله؛ نو دوی دې د الله سبحانه و تعالی د سخت عذاب په تمه شي. د شام خلکو د الله سبحانه و تعالی د رضا لپاره خپله وینه توی او قرباني کړه، چې د الله سبحانه و تعالی کلمه لوړه شي. په شام کې د عبدالرحیم جوبار په څېر خلک شته، چې د خپلو خلکو سرښندني نه پلوري، د خپل دین سپکاوی نه مني او په خپله مبارزه کې تر هغې ثابت او ټینګ پاتې کېږي، چې الله سبحانه و تعالی لوی بری ور په برخه کړي. الله ستاسو ساتونکی او د دغه بري لاسته راوړلو وړ دی. په پای کې مورږ یوازې ویلی شو:

**﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ﴾**

[البقرة: ۱۵۶]

*ژباړه: موږ د الله سبحانه و تعالی یو او د هغه لوري ته ور ګرځېدونکي یو.*

اې عبدالرحیمه! موږ ستا په وفات ډېر غمجن یو. موږ له الله سبحانه و تعالی څخه غواړو، چې ستا نېک عملونه په خپل دربار کې قبول کړي او د پیغمبرانو، صابرانو، شهیدانو او صالحینو په ټولۍ کې دې راپورته کړي. د دغو کسانو ملګرتیا څومره ښه ده.

**د حزب التحریر- ولایه سوریه مطبوعاتي دفتر**

**د ګڼې شمېره: ۱۴۳۹/۰۰۱**

**د ۱۴۳۹ هـ.ق، د ربیع الثاني اتمه**

**د ۲۰۱۷ م، د ډیسمبر ۲۶ مه**

**ژباړن: جمیل**